مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: بشرمل پسرلی ۲۰۲۴/۰۵/۰۲

# فېډرالېزم: خيالي طرحه د تجزيې له ارمان سره

## ۵ برخه

د فېډرالېزم فلسفي ته په کتو، د افغانستان واقعیتونو او عيني او ذهني شرايطو په پام کې نيولو او د نړۍ د سياسي نظامونو او دولتونو تجربو او د سياسي نظامونو ښېګڼو او نيمګړتياو پر بنسټ، د قومي فېډرال غوښتونو اټکلونه او طرحې يا خيالي او غير عملي دي او يا هم د تجزۍ له ارمان سره ملي دي. فېډرال غوښتونکي د اذهانو د تېر ابستلو او يا د ځان له تاريخي پلوه د مظلوم واقع کېدو په تبليغ د فېډرالېزم غوښتني کوي، چې ځيني يې مستقيم د بغض او تنفر په اساس د فېډرالېزم پايله، چې تجزيه ده څرګندوي، او ځيني هغه ارماني يې بيا ځان ولسواک او لېبرال راپېژني او د فېډرالېزم په چوکاټ کې د ازادۍ، برابرۍ او د ترقی او تعالی بيانونه کوي، چې ممکن د ځينو نيتونه صاف وي او د يوې خيالي ټولني رومانتيک تصوير يې په ذهن کې ترسيم کړی وي، خو ډېرۍ هغه يې په ظاهراً دا ډول بيانونه کوي، خو رفتار، اعمال او افکار يې غير ولسواک او غير هېوادني دي. د بېلګې په توګه، ځيني هغه قومي فېډرال غوښتونکي چې له هېواده بهر په ټولنيزو رسنيو کې د سياست ميدان ګرم ساتي، ظاهرآځان لېبرال او سېکولر معرفي کوي، خو شفيع ديوانه چې په شهيدانو به يې ګډا کولې ( رقص مرده ) اتل ګڼي، ځيني يې بهرنيو مستبدو اخوندانو ته قصيدې ليکي او ځيني يې حبيب الله کلکاني چې د ټولو بشري حقوقو خلاف کړني يې کولې، اتل بولي او د نورو افغان قومونو روند اندو او هېواد پالو ته د فاشست، قبيله ګرا او تروورېست اصطلاحګاني کاروي!

**له فېډرالېزم څخه دقومي فېډرال غوښتونکو ناسمی انګېرني او شنني**

که د نړۍ تاريخ ته وکتل شي، ملتونو ډول- ډول ټولني په مختلفو تاريخي پړاوونو کې تجربه کړي. بشري ټولني خپل مزل له لومړنۍ يا طبيعي ټولني پيل کړی، ملک الطوايفي، فيوډالي او د پانګه والی له تجربو وروسته، ملي ولسواکو دولتونو ته لار پرانېستل شوې. د پرمختللو فېډرال دولتونو مطالعه موږ ته دا را په ګوته کوي، چې حتا د خپلواکو سياسي واحدونو د انضمام سره ـسره، د فېډرال سياسي نظامو پوخوالي پېريو وخت نېولی، لکه د امريکې متحده ايالات چې د فېډرال سياسي نظام بشپړتيا يې دوه پېړۍ وخت نيولی، په داسې حال کې چې د خپل وخت د ملت-دولت جوړوني له ابزارو يې کار اخيستی. په هره پېړۍ کې د ملت جوړوني ابزار توپير کوي. په اتلسمه او نولسمه پېړيو کې ملت جوړونه په جبر، زور او حذف شوې، خو په يويشتمه پېړۍ کې چې د نړيوالتوب، نړيوالو ادارو، ولسواکيو، ټولنيزې مېډيا او د مصنوعي ځيرکتيا دور دی، هر فرد ځان ته حق ورکوي، چې خپل غږ او ځای ولري او هېڅ حکومت نه شي کولی چې دا غږ غلی کړي، مګر داچې ځان ولس او نړۍ سره مقابل کړي لکه د طالبانو حکومت.

ظاهراً فېډرال غوښتونکي قومي سياستوال داسې انګېري، چې د فېډرالېزم بنسټيزه موخه د قومي او مذهبي هويت په رسميت پېژندل او د عدالت او برابرۍ تضمين دی، ځکه خو فېډرالېزم اهميت په نړۍ کې ورځ تر بلې زياتېږي او له سياسي پلوه شلمه پېړۍ د فېډرالېزم پېړۍ وه. دوی داسې فکر کوي، چې فېډرال سياسي نظامونه په نړۍ کې بريالي نظامونه دي او د فېډرالېزم په منلو ولسواکي، د قانون واکمني او د قومونو پرمختګ تضمين کېږي او د قدرت انحصار له منځه وړي، ځکه چې د نړۍ پرمختللي دولتونه فېډرال سياسي نظامونه لري، لکه د آمريکا متحده ايالات، سويس او استرليا. ددوی په باور، په فېډرال غوښتنه کې د افغانستان قومي فېډرال غوښتونکي يوازي نه دي، بلکي ځيني د نورو هېوادونو شنونکي او سياسيون د افغانستان لپاره فېډرالېزم غوره ګڼي. قومي فېډرال غوښتونکي استدلال کوي، چې فېډرالېزم يوازې د خپلواکو ايالتونو له انضمام ( يوځای کېدو ) څخه نه رامنځ ته کېږي، بلکې د مرکزي دولت له انقسام ( په مختلفو ايالتونو له وېش ) څخه هم رامنځ ته کېږي.

ښه به وي چې د قومي فېډرال غوښتونکو د پورته انګېرنو او شننو وکړو، چې رښتيا هم هغه څه چې دوی يې وايي، په نړۍ کې عملاً ځای لري او که نه؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دقومي فدرال غوښتونکو دا انګېرنه، چې شلمه پېړۍ د فدرالېزم پېړۍ وه، په واقعیت نه ده ولاړه او هم له عملي او تیوریکي اړخه ناسم برداشت او قضاوت دی. اساساً شلمه پېړۍ د خپلواکۍ او ولسواکۍ پېړۍ وه. د ولسواکۍ په دریېمه څپه کې چې د ۱۹۷۰ څخه یې تر ۲۰۰۰ میلادي کال پورې وغځېده، د ولسواکو هېوادونو شمېر له ۳۵ څخه ۱۱۰ ته پورته شو، چې د عمومي ټاکنو له لارې یې د واک د لېږد او ترلاسه کولو هوکړه وه، خو حتا د ټولې شلمې پېړۍ په ترڅ کې یوازې څو محدود هېوادونه، چې ډېری یې له خپلواکو سیاسي واحدونو تشکیل شوي و، په ځانګړې جغرافیه کې یې قومي تراکم شتون درلود یاجغرافیه وي مساحت یې ډېر لوی و، فدرال سیاسي نظامونه د دولت له بنسټ ایښودنې سره سم غوره کړل، چې ډېری یې له ناکامۍ سره مخ شول.
د بسیطو نظامونو میلان فدرالېزم ته یا دا چې بسیط ولسواک نظامونه فدرال ته اوختي وي له واقعیت سره واټن لري. داچې فدرالېزم د واحدې جغرافي له انقسام څخه هم رامنځ ته کېږي، له تیوریکې پلوه جالب بحث دی، خو په عمل کې یا شتون نه لري او یا هم شتون یې ټوټه کېدونکې او د ناکامۍ پایلې له ځان سره لري. په بله وینادا چې فدرالېزم یوازې د خپلواکو ساحو له انضمام څخه نه رامنځ ته کېږي، د فدرال نظام اساسي فلسفه، چې د خپلواکو ایالاتونو په انضمام سرخي، نه شي ننګولی. د نړۍ داسې پرمختللی او ولسواک فدرال دولت نشته،چې د خپلواکو ساحو له انضمام څخه پرته رامنځ ته شوی او یا بریالی شوی وي. تر دې دمه هېڅ داسې کوم واحد هېواد نشته، چې له پېړیو موجودیت وروسته، په اصطلاح د قومونو د ځواکمنتیا یا د سیاسي ساختار ډېموکراټ کولو په موخه یې فدرالېزم رامنځ ته کړی وي، خو داسې ډېر هېوادونه شته چې په نړیوال کلي کې د اغېزناک نقش لوبولو په پار او د ولسونو د هوسا ژوند په خاطر یې سیاسي او اقتصادي لېبرال ارزښتونه منلي او ټیکاو ته یې کار کوي، مګر داچې دا پروسې د کوم پاپولست ښکار شي، چې د ځان په خاطر هر څه تر ګواښ لاندې راولي، لکه نرندرا مودي، رجیب طیب اردوغان، ډونالډ ټرمپ، پوټین او داسې نور.
ښه به وي چې د نیپال او عراق بېلګې په څه تفصیل ولیکو، ځکه چې ددې غیر واحده ټولنو بسیط نظامونه وروسته له ډېر اړو دوړ څخه فدرال ته اوختي. د نیپال ټولنه او سیاست له کلونو را پدېخوا فیوډالي یا د ځمکه وال خصلت لري. ترڅو فیوډالي نظام له منځه یوسې، په ۱۹۹۶ کال کې ماوېستي غورځنګ رامنځ ته شو او د مرکزي فیوډالي نظام پر وړاندې یې وسله واله مبارزه پیل کړه. د لس کلنې جګړې غځېدا د نیپال حکومت او ماوېستان سترې کړل، پایله دا شوه چې فدرالي نظام به رامنځ ته کېږي، ترڅو د نیپال فیوډالي د پای ټکی ومومي، خو د وخت په تېرېدو بیاهم فیوډالان په واک کې پاتې شول، مرکزي واک یې وغځوه یا یې ایالتونو ته لازمه واکونه ور نه کړل او یا یې هم خپل افراد ځای پر ځای کړل، ترڅو د Patronageاو Rent Seeking څخه په ګټنې د سیاسي واک تداوم ډاډمن کړي، ځکه خو ځینې سیاسي شنونکي نیپال ته د Feudal Federalism سیاسي نظام اصلاح کاروي. بل پلو کله چې د امریکا متحده ایالتونو په عراق خپل واک راوست، په ۲۰۰۵ کال کې یې کردي فدرالېزم ورته رامنځ ته کړ، چې په ترڅ کې یې یوازې کردستان ډېر واکونه ترلاسه کړل، چې اوس د یو خپلواک دولت په لور هڅې کوي. د عراق کردستان به خپله خپلواکي اعلانوي، ځکه خو یې رېفرنډم وکړ او غوث اکثریت د کردستان د خپلواکۍ رایه وکاروله، خو د وخت د اړتیاو پر بنسټ، د نړۍ په نه رسمیت پېژندل او په سیمه کې د نورو کړکېچونو د مخنیوي په پار، د کردستان د خپلواکۍ پروسه وځنډېده. په عراق کې نه ولسواکي ټینګه شوه او نه اقتصاد وغوړېد، بلکې د عراق د تجزیې ګواښ زنګ ووهل شو، ځکه د عراق مرکزي حکومت ځینې داسې کړنې لاس لاندې ونیولې، چې ترڅو مرکزیت ځواکمن او کردي فدرال واکونه کمزوره شي، ترڅو ځواکمن مرکزي نظام ته لار ببرته هواره کړي او د عراق د تجزیې مخه ونیسي. په یو څو نورو فدرال هېوادونو به تم شو. له تاریخي پلوه ا رجنټاین مختلفي خپلواکه جغرافي لرلې، چې ډېر وخت یې پخپلو منځونو کې خونړۍ جګړې کړې. کله یې چې له هسپانیا خپلواکي ترلاسه کړه، د ارجنټاین مختلفو خپلواکه ساحو په کنفدراسیون هوکړې ته ورسېدل، ترڅو فدرال سیستم ته لار هواره شوه. په لاتینې امریکا کې په لمړي ځل ونزوېلا په کال ۱۸۱۱ کې فېډرېشن رامنځ ته کړ، خو د وخت په تېرېدو په ځانګړې توګه په یویشتمې پېړۍ کې د ونزوېلا فدرالېزم رنګ بایلود او یو متمرکزه نسبتاً استبدادي حکومت چارې پر مخ وړي. بل لور ته د برازیل امپراطورۍ ډېر ځواکمن مرکز رامنځ ته کړی و او ټولې چارې له مرکزه پرمخ تللې، خو د نظامي کودتا په ترڅ کې چې امپراطو یې وپرځوله، برازیل په ۱۸۹۱ اساسي قانون په ترڅ کې فدرال دولت رامنځ ته کړ.د مکسیکو امپراتوري ډول – ډول جغرافیه وي ساحې رامنځ ته کړې وې ترڅو یې لازم مدیریت وکړي، خو چې کله امپراتوري سقوط شوه، سمدلاسه یې فدرال سیستم غوره کړ، ځکه چې امپراتورۍ فدرالي خصلت رامنځ ته کړی و. که ددې ټولو هېوادونو حالات په غور وڅېړل شي، یو یې هم له بسیط یا له ولسواکه بسیط سیستم څخه فدرال ته نه دي اړول شوي.
دا انګېرنه هم کوم ځانګړی بنسټ نه لري، چې فدرال کثیر القومي هېوادونو ته مناسب دی ځکه، چې په بسیط ولسواک نظام کې د لږکیو (اقلیتونو) حقوق نه ورکول کېږي، نو همدا ده چې ملي یووالی نشي ټینګېدی، ځکه باید


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

فدرال ایالتونه منځته راشي، چې نه یوازې په کثرت کې وحدت رامنځ کیږي، بلکې لړکي دخپلو حقونو څخه برخمن کیږي. د بېلګې په توګه، د اروپایي ټولنې۱۳ هېوادونه غیر متجانسي ټولنې لري، خو یوازې یو هېواد چې هغه بلجیم دی فدرال نظام لري، که چېرې دا خیالات سم وی، ولې ټوله اروپایي ټولنه فدرال نه مني، خو بل پلوه جرمني او اوتریش چې متجانسې ټولنې دي، فدرال نظام یې غوره کړی. د فدرالېزم دا اصل چې د اقلیتونو د حقوقو په بهترینه توګه تامینونکی دی، په عمل کې سم ندی ثابت شوی، چې پاکستان، هندوستان او روسیه یې ښې ببلګې دي. ایا په پاکستان کې د پښتنو، بلوڅو او هندوانو حقوق تضمین شوي؟ هېڅکله نه، بلکې ډېری یې له لومړني انساني حق څخه، چې ژوند دی، محروم دي. ټولیزه ارزونه داده، چې په فدرالي نظامونو کې د اقلیتونو حقوق ترپښتو لاندې کیږي او کله چې په فدرال ایالت کې کلتوري اقلیتونه موجود وي، د جګړې زېرې له ځان سره لري. بل پلو، په نړۍ کې یوازې ۱۴ سلنه هېوادونه متجانسې ټولنې دي، چې دې امر یوازې د هغو د ملت جوړنې پروسه اسانه کړې، خو پاتې نورو غیر متجانسو ټولنو فدرال ته کومه بهانه نه ده رامنځ ته کړې، که چېرې داسې وی، اوس به د نړۍ ټول هېوادونه فدرالي وی، چې د ډېرو په تجزې سره به د هېوادونو شمېر سلهاوو ته پورته شوی وی. د څو ثانیو لپاره به فکر وکړو چې فدرال واقعاً د اقلیتونو قومي، ژبني او مذهبي حقوق خوندي کوي او د شلمې پېړۍ دا پورته هېوادونو د همدې موخې د تحقق لپاره فدرال سیاسي نظامونه غوره کړي، ولې په بلوچستان او د پښتونخوا پښتنو ته قومي او هم ژبني حقوق خوندي نه دي؟ ولې په هند کې د مسلمانانو وضعیت ورځ تر بلې ترینګلی کیږي؟ ولې د روسي مسلمانان د طبیعت قانون ته پرېښودل شوي؟ ولې پرمختللو غربي فدرال ټولنو کې یوازې د اکثریت ژبې په ټولو زده کیږي؟ افغانستان هم له هغو هېوادونو څخه دی، چې ببلابېل قومونه او ژبې او په یو دین کې دوه مذهبه هم لري. په داسې حال کې چې د نورو ډېرو هېوادونو غیر متجانس والی دیني هم دی. خو بیا هم یو بسیط دولت لري او د دولتونو د پیاوړتیا پروسې یې رواني کړي.

که چېرې فدرالي نظام یوازینی ولسواک نظام وی، فرانسه چې د ولسواکۍ او د بشري حقوقو د انقلاب مرکز بلل کیږي، فدرالي نظام به یې غوره کړی او یا هم په فرانسته کې به ولسواکي نه وه واکمنه. ولسواکي یعنې د خلکو حکومت د خلکو له لوري او د خلکو لپاره، چې دا اساسأت په ډېری ولسواکو نظامونو کې تحقق موندی شي، که په هر ظاهري شکل پوښل شوی سیاسي نظام ولري. فدرالېزم منحیث د تیوري د ولسواکو نظامونو یو یو ډول دی، خو دا ادعا چې فدرالېزم ولسواکي تضمینوي، یو ناسم برداشت دی. د بېلګې په توګه، هغه هېوادونه چې فدرال نظامونه لري، ۱۱ هغه یې د غیر ولسواکو هېوادونو په کټګورۍ کې راځي، البته ځینې به یې انتخاباتي ولسواکي ولري، خو د ولسواکۍ اساسي فلسفه او ارزښتونه یې له پامه غورځولي، لکه روسیه، پاکستان، وېنزوېلا او داسې نور. د روسي فدرالي سیستم ستالین رامنځ ته کړ، چې د تاریخ یو له ظالمو دکتاتورانو څخه دی او د مرکزي کمونېستي سیستم یو له اصلي څېرو څخه چې نه یې فدرال ارزښتونه پېژندل او نه هم قومي او دیني هویتونه. له شک پرته چې د افغانستان له لومړي اساسي قانون څخه تر د ۱۳۸۲ اساسي قانون پورې د بسیط نظام بحث کړی او حکومتونه یې پر بنسټ پر مخ تللي، خو موږ ولسواک نظام نه درلود. د افغانستان په تاریخ کې لومړی ځل په ۲۰۰۴ کال ټاکنې شوې، د تېرو شلو کلونو په ترڅ کې ولسواکي په کاغذ موجوده وه او د مشق او تمرین هڅې یې شوې، خو د هېواد عیني او ذهني شرایطو، بهرنیو لاسوهنو او جګړې ددې مجال رامنځ ته نه کړ، چې د ولسواکۍ د بنسټیزه کېدو پروسه پرمخ ولاړه شي. که چېرې موږ ولسواک او د قانون نظام درلودی، ولسواک بسیط حکومت پایله نه وه ورکړې بیا ولس پخپله خپله رایه د رېفرنډم له لارې څرګندوله، خو موږ تر دې دمه ولسواکي نه ده ازمایښت کړې، ترڅو ولس ته مسوول او ځواب ویونکی حکومت او مقننه قوه ولرو.

دا ادعا چې فدرالېزم د قدرت انحصار له منځه وړي، لکه د نورو انګېرنو په څېر هڅې یوه خیالي اند دی. که چېرې داسې وی په روسیه، پاکستان او نورو فدرال دولتونو کې به اوسنی وضعیت واکمن نه وی. د رژیمونو ډول دی چې د سیاسي انحصار او ولس سره د سیاسي واک د سرچینې ډول روښانه کوي، لکه لیبرال ډیموکراټ، سوسیال ډیموکرات، مشروطه شاهي، مطلقه شاهي، دیکتاتوري، مجموع ټولواکي، تیوکراتیك اقتداري، قبیلوي اقتداري او کمونیستي اقتداري او هم ددولت سیستمونو پورې تړلې وي چې ایا په یوه هېواد کې ریاستي، پارلماني او که داسې نور سیستمونه دي. مثلاً پاکستان فدرالي سیاسي نظام لري، خو ولې د جنرال پروېز مشرف په دوره کې پاکستانیانو د سختې دیکتاتورۍ لاندې شپې او ورځې تېرې کړې او تر دې دمه سیاست د پوځ په واک کې دی او هم داسې اټکل کیږي، چې پوټین به تر خپل مرګه د روسې مشري کوي.له شک پرته، چې د امپراتوریو، کمونېزم، مطلقه شاهي نظامونو، استبدادي حکومتونو او سُنتي او دودیزو سیاسي چوکاټونو زمانه نده، بلکې د عصر د بشري ټولنې مقتضی ازادي، خپلواکي، ولسواکي او د قانون واکمني ده، چې دې ارزښتونو او غوښتنو د نړۍ په ډېرو غیر فدرال نظامونو مخصوصاً په بسیط ولسواک نظامونو کې په ښه ډول تحقق موندلی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لکه څرنګه چې د قومي فډرال غوښتونکو پورته انګېرنې او شننې تر ډېره خیالي دي، په همدې ډول، که چېرې یوازې فډرال نظامونو موډرنېزم راوستی یا د ټولنې خیر او فلاح یې ډاډمنه ولی، اوس به ټول ولسواک او موډرن دولتونه فډرالي وی. هغه ټولنې چې د موډرنېزم بنسټ اېښودونکي دي، لکه فرانسه او انګلستان تر دې دمه فډرال نظامونه نه لري، انګلستان شاهي پارلماني نظام لرونکی دی او فرانسه د ریاستي نظام پیاوړی بسیط دولت لري. فډرال په ټوله نړۍ کې یو معمول امر نه دی، چې افغانان دې ترې محروم وي، او نه هم فډرال د ولسواکۍ تضمین کوي او نه هم د پرمختګ لازمي اسباب جوړي، بلکې فډرال یو ځانګړی مجبوریت دی، چې ډېری وخت د تمې خلاف پایلې لري. تردې دمه نه له منطقي او نه هم له تجربي اړخه دا ثابته شوې، چې یوازې فډرالېزم یوه ټولنه له سنتي مرحلې څخه موډرن وضعیت ته اړوي، هغه ادعا چې (ارماني ) قومي فډرال غوښتونکي یې مطرح کوي. داسې هم شوي، چې ډېرې ټولنې له ولسواک نظام پرته مډرنې شوي، لکه روسیه، چین، سېنګاپور او داسې نور...

بل لور ته ظاهراً ځینې قومي فډرال غوښتونکو د افلاتون او د توماس مور ارماني نړۍ ترسیم کړې، چې په فډرال ایالتونو کې به واک له ښکلو او سپېڅلو خلکو سره وي، قومي فډرال غوښتونکي به د ګاندهي، نېلسن ماندېلا اوجېفرسن په څېر خپلې ټولنې رهبري کوي، ازادي په وي، اقتصادي پرمختګ به وي، عمري عدالت به ټینګ وي او د ځمکې پر سر به جنتي فضا حاکمه وي. دا انګېرنه چې فډرال سیاسي نظام د ښې حکومتوالی، له فساد سره د مبارزې، قانون واکمنی، ولس ته حساب ورکونه، د حکومت اغېزمنتوب، ولسواکی، انساني ازادی، بشري پراختیا، د وګړو عایداتي برابرۍ او د بشري حقونو په ټینګښت کې نسبت بسیط ولسواک نظام ته مثبت ثابتېدای شي، تجربي او مستند استدلا نه دی. ښه به وي، چې په دې برخه کې د منل شوو شاخصونو او انډېکسونو پر بنسټ، لس غوره هېوادونو په لاندې ډول پرتله وکړو، چې په ترتیب د نړۍ د ټولو هېوادونو په کچه، له لمړي تر لسم مقام لري:

ښه حکومتوالي: له سویس پرته چې دویم ځای لري، نور ټول ۹ واړه هېوادونه، لکه اېستونیا، ناروې، ډنمارک، سویډن، ایرلانډ، لاکزمبورګ، نیدرلانډ، فنلانډ او نیوزلانډ هېوادونه د فډرال سیاسي نظام په چوکاټ کې دې مرحلې ته نه دي رسېدلي.

د فساد ټیټه کچه: یوازې سویس او المان په ترتیب په اووم او نهم مقام کې ځای لري او اته نور هېوادونه، چې بسیط سیاسي نظامونه لري، لکه ډنمارک، فنلنډ، نیوزلانډ، ناروې، سېنګاپور، نیدر لانډ، سویډن او لاکزمبورګ د فساد کچه یې ټیټه ساتلې.

د قانون واکمني: یوازې سویس او اوتریش په ترتیب په اووم او لسم مقام کې ځای لري او اته نور هېوادونه چې بسیط سیاسي نظامونه لري، لکه فنلنډ، ډنمارک، سېنګاپور، لاکزمبورګ، ناروې، سن مارینو، نیوزلانډ او لېکټېنستاین د قانون په واکمنۍ کې د هېوادونو د لست په لوړ ځای کې دي.

د ولس غږ اورېدنه او حساب ورکونه: په دې برخه کې سویس درېیم او کاناډا لسم ځای لري او نور په ترتیب بسیط نظامونه دي، چې ولس ته د حساب ورکونې په برخه کې لوړ مقام لري، لکه نیوزلانډ، فنلانډ، ډنمارک، لکزمبورګ، نیدرلانډ، سویډن او ایرلنډ.

د حکومت اغېزمنتوب: د حکومت اغېزمنتوب کې یوازې سویس درېیم ځای لري او دا پاتې نور ۹ هېوادونه په ترتیب، سېنګاپور، موناکو، ډنمارک، ناروې، لاکزمبورګ، سنمارینو، فنلانډ، جاپان او هانګانګ د حکومتونو اغېزمنتوب کې لوړ ځای لري.

خوشالي: د نړۍ په لسو خوشاله ترینه هېوادونو کې یوازې سویس اتم ځای نیولی او نور پاتې نهه هېوادونه په ترتیب تر اتمه او لسم ځای لري، خو دا ټول نهه هېوادونه فډرالي نظامونه نه لري.

ولسواکي: په لسو بهترینه ولسواکو نظامونو کې یوازې استرلیا او کاناډا په نهم او لسم مقام کې ځای لري، بلکې نور اته بسیط ولسواک نظامونه لري، خو بهترینه ولسواکي تمثیلوي، لکه ناروې، نیوزلانډ، فنلانډو سویډن،ایس لانډ،ډنمارک، ایرلانډ او تایوان.

انساني ازادي: هغه لس هېوادونه چې نسبت نورو ټولو هېوادونو ته د انساني ازادي کچه یې لوړه ده، له سویس پرته نور ټول ۹ هغه یې بسیط سیاسي نظامونه لري.

بشري پراختیا: بشري پراختیا چې د هېوادونو پرمختګ په ښه توګه منعکسه کوي، له سویس، استرلیا او المان پرته دا نور اووه هېوادنه غیر فډرال نظامونه لري، خو بشري پراختیا یې ډېره لوړه ده.

د عاید واټن: هغه لس هېوادونه چې د وګړو ترمنځ یې د عاید ترمنځ ډېر واټن نشته، یوازې متحد عربي امارت په دې ډله کې راځی او پاتې نور ۹ یې هغه نظامونه لري، چې فډرال نه دي.

د بشري حقونو ټینګښت: هغه لس هېوادونه چې نسبت نورو هېوادونو ته بشري حقوقونو ته ډېر درناوی لري، کاناډا، سویس او استرلیا په ترتیب په شپږم، نهم او لسم مقام کې دي، خو نور ټول له لمړي تر شپږمه او اتم او نهم نمره لرونکي هېوادونه بسیط سیاسي نظامونه لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پورته شاخصونو ترڅنګ، د کلتوري رنګارنګۍ مسله هم باید یاده کړو. هغه لس هېوادونه چې دیني او مذهبي تنوع يې د نړۍ په کچه لوړ حد لري، له هندوستان او متحده عربي اماراتو پرته، پاتې نور ټول يې بسیط سیاسي نظامونه لري، لکه لبنان، اندونېزیا، پاپونیوګیني، بحرین، ایران، اردن، مصر او اسرایل او داسې نور ډېر هېوادونه، چې خپل پایښت او پرمختګ په غیرفدرال نظام کې ویني. ددې ترڅنګ، هغه هېوادونه چې د قومي شخړو شاهدان دي، لکه میانمار، بورنډي، ایران، ترکیه، ګانا او داسې نورو له فدرال نظام څخه ځکه ډډه کوي، ترڅو د ټوټه کېدو مخه ونیسي. له نېکه مرغه افغانستان هېڅ وخت د قومي شخړو شاهد نه دی او قومي شخړې د افغانان ترمنځ تل مردودې او د افغاني ارزښتونو، انساني کراماتو او اسلامي احکامو خلاف کرکجن عمل او چلندګڼل کېږي، ځکه خو هغه کسان چې د افغانستان بدمرغۍ ته د قومي شخړو رنګ ورکوي، افغانانو بې واکه او بې ځواکه کړي، چې په دې مسله به بله برخه کې نوره رڼا هم واچوو.

کله چې قومي فدرال غوښتونکي د فدرالېزم ځانګړتیاوې او د قوت ټکي بیانوي، د امریکا متحده ایالاتو، استرلیا او د سویس بېلګې وړاندې کوي، خو هېڅکله ددې بیان نه کوي، چې ددې هېوادونو د فدرالي کېدو لاملونه او پروسې کومې وې، ددې هېوادونو سیاسي پروسې، ملت - دولت جوړونه له کومو پړاونو تېره شوي او څه ډول رهبرانو يې دا پروسې رهبري کړي او د کومو موخو په پار. د امریکې، سویس او استرلیا د فدرالي نظامونو بېلګې د بریالیو بېلګو په توګه یا اشتباه یا په غرض ده. د بېلګې په توګه، ایا موږ کولی شو، چې ابراهم لینکولن له عبدالطیف پدرام، ګاونډی کاناډا يې له ګاونډې پاکستان او ایران، د ایالتونو انضمام يې له واحد افغانستان او د ولسونو وېښتیا او موخې يې د افغانستان له عیني او ذهني شرایطو سره پرتله کړو؟ کله چې دا کار نه شي کېدی، ولې يې د فدرال نظام کاپي د افغانستان لپاره لازمه بولئ؟هېڅ فدرال نظام د هغو موخو په پار نه دی رامنځته شوی، کوم چې قومي فدرال غوښتونکي يې ظاهراً په لټه کې دي. د نورو هېوادونو فدرال غوښتونکو په هېڅ صورت د افغانستان فدرال غوښتونکو سره د پرتلې وړ نه دي، ځکه دا قومي فدرال غوښتونکي د هېواد له هویت او موجودیت سره ستونزه لري، له نورو هېوادونو سره ځان له قومي، ژبني او مذهبي پلوه تړلي ګڼي، له افغان قومونو، تاریخ او جغرافې څخه ځان پردی ګڼي او ډېری وخت يې د تجزې او بې روي قومي هویتونو مبارزې د لوی ګواښښ زنګ ټنګوي.

نور بیا

**که چېرې قومي فدرال غوښتونکي د افغانستان سیاسي او ټولنیزو حالاتو ته په غور پام وکړي...**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ